# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ **حلقو** کښې پۀ 72 نيک اعمال کښې د يو نيک عمل "مسلمانانو ته د سلام کولو "پۀ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او د ښوک پۀ مُسکا باندې د ليدلو پۀ وخت لوستلے کيدونکې دُعا به يادولے شي- پۀ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## مسلمانانو ته سلام کول

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: تاسو خپل مجلسونه پۀ ما باندې پۀ درود لوستلو سره ښائسته کړئ بے شکه ستاسو پۀ ما باندې درود لوستل به د قيامت پۀ ورځ ستاسو د پاره نُور وي-(1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نيک عمل نمبر 30

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د الله پاک پۀ فضل سره اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سُنَّتو اختيارولو او د شريعت مطابق د ژوند تيرولو د پاره د اِسلامي خوئيندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پۀ شکل کښې د نيک اعمال مختلفې رسالې مُرَتِّب کړې دي- نن به مونږ د 72 نيک اعمال رسالې نه د نيک عمل نمبر: 30 پۀ باره کښې زدکړه کوو-

**نيک عمل نمبر: 30** آيا نن تاسو پۀ کور، دفتر، بس، ريل ګاډي وغيره کښې د تللو

---

1 ... مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:291، حديث:3330-

راتللو او پهٔ کوځو د تیریدو پهٔ وخت ولاړ او ناستو مسلمانانو ته سلام کړے؟

## آیت مبارک

اللّٰه پاک فرمائیلي دي:

فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُیُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ تَحِیَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَیِّبَةً

(پاره:18، سورۀ النور: 61)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا چې کله کورونو ته ورداخل شئ نو خپلو خلقو ته سلام کوئ، (دا) د ملاقات د وخت ښه دُعا ده، د اللّٰه له طرفه مبارکه پاکیزه (کلمه ده)۔

پهٔ دې آیت مبارک کښې د ملاقات کولو ادب بیان شوے چې کله هم د یو خپلوان یا دوست کور ته ځئ یا د هغهٔ سره ملاقات کوئ نو پهٔ سلام کښې ورومبے والے کوئ۔ [1]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

تاسو به د هغه وخته پورې جَنَّت ته نهٔ ځئ، د څو پورې چې ایمان را نهٔ وړئ او تاسو د هغه وخته پورې (کامل) مؤمِن کیدے نشئ د څو پورې چې پهٔ خپل مینځ کښې محبت اونکړئ! آیا تاسو ته داسې څیز وه نهٔ ښایم پهٔ کوم سره چې تاسو پهٔ خپل مینځ کښې محبت شروع کړئ، (هغه دا دے چې) پهٔ خپل مینځ کښې سلام عام کړئ۔ [2]

## د سلام او د دې پهٔ باره کښې حُکمونه

(1): سلام کول سُنَّت او د دې جواب فورا ورکول واجِب دي۔ [3] (2): د سلام جواب پهٔ دومره اواز کښې ورکول ضروري دي چې سلام کوونکے یې واوري، صرف

1… تفسیر آلوسی، پاره:18، سورۀ نور، تحت الآیة:61، جلد:9، حصه:18، صفحه:559، بتغیر قلیل۔

2… مسلم، کتاب الایمان، باب بان انه لایدخل الجنة المؤمنون۔۔۔الخ، صفحه:44، حدیث:54۔

3… بهار شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:459۔460، ملتقطًا۔

لاس یا سر خوزول کافي نهٔ دي-[1] **(3):** د سلام او د سلام د جواب ښهٔ الفاظ دا دي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ د دې الفاظو نه علاوه نور الفاظ زیاتول لکه ځینې خلق د اَلْجَنَّةُ حَلَالُهٗ وَالدَّوْزَخُ حَرَامُهٗ وغیره الفاظو زیاتوالے کوي، دا صحیح نهٔ دي-[2] **(4):** صرف پهٔ ګوتو یا د لاس پهٔ تَلو اِشاره کول او پهٔ خُله باندې هیڅ نهٔ وئیل منع دي-[3] پهٔ حدیثِ پاک کښې دې ته د غیر مسلمو طریقه وئیلے شوې ده-[4] **(5):** د سلام کولو پهٔ ځائے هیلو، هائے، بندګي، آداب عرض وغیره الفاظ وئیل د سُنَّتو خلاف دي-[5] **(6):** ځینې خلق د سلام کولو پهٔ وخت راښکته کیږي، دا ښکته کیدل که د رکوع د حد پورې وي (یعنې دومره ښکته کیدل چې لاس وغزوي نو زنګونانو ته رسیږي، دا) حرام دي او که د دې نه کم وي نو مکروه دي-[6]

## د سلام کولو فائدې

✿ د سلام کولو سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت باندې عمل کیږي ✿ د سلام کولو سره نیکۍ زیاتیږي ✿ پهٔ سلام کښې وړومبے والے کول د الله پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قُرب ذریعه ده-[7] ✿ د سلام کولو سره د زړهٔ نه بُغض او حسد ووځي او محبتونه زیاتیږي ✿ پهٔ سلام کښې د وړومبي والي

---

1 … بهار شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:464، ملتقطًا۔

2 … فتاوی ہندیه، کتاب الکراهیة، باب سابع فی السلام وتشمیت العاطس، جلد:5، صفحه:401۔

3 … مرآة المناجیح، جلد:6، صفحه:328، بتغیر قلیل۔

4 … سنن ترمذی، کتاب الستئذان والآداب، باب ماجاء فی کراهیة اشارة۔۔۔الخ، صفحه:634، حدیث:2695۔

5 … بهار شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:465، ملخصًا۔

6 … بهار شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:464 ۔۔

7 … سنن ابی داود، کتاب الادب، باب فی فضل من بدا بالسلام، صفحه:810، حدیث:5197۔

کولو سره تکبر ختمیږي او عاجزي پیدا کیږي۔ (1) ❁ کور ته د ننوتو پهٔ وخت د سلام کولو سره برکتونه نازلیږي۔ (2)

## د سلام نهٔ کولو نقصانونه

❁ سلام نهٔ کول د ډیر لوئي اجر او ثواب نه محرومي ده ❁ پهٔ روایتونو کښې سلام نهٔ کوونکي ته د ټولو نه لوئي بخیل (کنجوس) وئیلے شوے دے۔ (3) ❁ سلام نهٔ کول د تکبر او د غرور علامت دے۔

## د سلام د عادت د جوړولو د پاره

❁ د سلام کولو فضیلتونه او فائدې خپلې مخې ته ساتئ ❁ پهٔ زړهٔ کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنّتو د اِختیارولو جذبه پیدا کړئ ❁ پهٔ لاره د تللو راتللو پهٔ وخت چې خوک میلاؤیږي هغهٔ ته سلام کوئ! پهٔ ورو ورو به مو اِنْ شَآءَاللہُ الْکَرِیْم! عادت پوخ شي ❁ د ملاقات د آدابو خیال ساتئ! د ملاقات پهٔ آدابو کښې دي چې وړومبے سلام اوکړے شي، داسې چې کله هم د چا سره خبرې کوئ نو وړومبے سلام کوئ! پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اَلسَّلَامُ قَبْلَ الْکَلَامِ یعنې د خبرو کولو نه مخکښې سلام دے۔ (4)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نن مونږ د نیک عمل نمبر: 30 مطابق د مسلمانانو ته د سلام کولو پهٔ موضوع باندې ګڼه ور معلومات حاصل کړل، نیت اوکړئ چې کور، دفتر، سفر او پهٔ لاره د تللو راتللو پهٔ وخت چې کوم مسلمانان هم میلاؤیږي هغوئي ته به سلام

---

[1] … شعب الایمان، باب فی مقاربه وموادة اهل الدین، جلد:6، صفحه:433، حدیث:8786۔

[2] … سنن ترمذی، کتاب الستئذان والآداب، باب ماجاء فیالتسلیم اذا دخل۔۔۔الخ، صفحه:635، حدیث:2698۔

[3] … الادب المفرد، باب من بخل بالسلام، صفحه:306، حدیث:1042۔

[4] … سنن ترمذی، کتاب الستئذان والآداب، باب ماجاء فی السلام قبل الکلام، صفحه:634، حدیث:2699۔

کوو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## خوک په مُسکا باندې ليدلو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ

ترجمه: الله پاک دې تاسو هميشه مُسکے لري-[1]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الخلق، باب صفة ابليس وجنوده، صفحه: 840، حديث: 3294-

(15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پهٔ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پهٔ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پهٔ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پهٔ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پهٔ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پهٔ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پهٔ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او ځاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پهٔ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آيا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئيلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلي؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او

مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❀ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ❀ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو خوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟